مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغزیز نائیي
۲۰۲۴/۱۰/۲۶

# کاش بیا لمر نه راختلی

نن يي بيا ستړي اروا
تر کوره راوړه
د تندي کرښې يې ژورې
د فلک چړو ښېرلي
سر تر پښو زخمي، زخمي دی
ته وا پـرانګ غرڅه داړلي
مېړنی غرور يې وخوړ
ارتيني ته يي غوړ کې ووېل
له بازاره بيا تش لاس يمه راغلی
دسترخوان دي کاشکې نه وای غوړولی
د وړوو شونډې سپېرې نشم ليدلی
خير! ګوتمې له ګوتې راکړه
په مفتي د ښار يي پلورم
پيسي نغدې ورسره دي
بل واده ته يي ملا تړلې
وروستی تومنه يي شوه تمامه
د سبا ځُرت دی بيا وری
د تيارو بل ځراغونه
ناهيلی و دير ځپلی
ځان يي ځان کې ور پناه کړ
سلګو واخيست غلی، غلی
په ژړا يي خدای ته ووېل
کاش بيا لمر نه راختلی!

۲۰۲۴/۱۰/۲۵


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ